ژباړه سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۷/۱۶

# اخير زه ولې؟

ارتهر آشي په ټينس لوبه کي د امريکا اول نمبر لوبغاړی و او يو څوک چي عروج ته ورسيږي، نو په خلکو ډېر ګران شي.

ارتهر ته په يوې پېښې کي له زيات غفلت سره د ايدز ناروغ وينه ورکړل شوه او هغه هم په مرګ اخته شو، تر دې چي مړ يې کړ. د مرګ په بستر چي پروت و، نو د نړۍ له کونج کونجه ورته د مينه والو خطونه راغلل. يو مينه وال ليک ور ولېږه، چي پکي ليکل شوي و: خدای يوازې ته ولي دغې وحشي ناروغۍ ته انتخاب کړې؟

ارتهر فقط د همدې ليک ځواب ورکړ او ورته ويې ليکل:

په نړۍ کي له ۵ کروړو زيات ماشومان ټينس لوبه پيل کړي، خو فقط ۵۰ لکه پکي ټينس زده کړي. له دغو ۵۰ لکو څخه ۵۰ زره د ټينس ميدان ته داخل شي، چي له داخلي تر نړيوالي کچې پورې ولوبيږي. له ۵۰ زرو څخه يې ۵ زره ګرينډ سلام سياليو ته ورسيږي او له ۵ زرو څخه يوازې ۵۰ تنه وي چي ومبلډن ته رسيږي. په ۵۰ لوبغاړو کي ۴ تنه نيمه پايلوبې ته او له ۴ څخه ۲ يې پايلوبې ته رسيږي چي فقط يو تن پکي جام ګټي، يعني دا يو تن په ۵ کروړو کي يوازينی کس وي چي جام په لاسونو کي اوچتوي. د دغه جام ګټلو پر مهال ما کله هم له خدايه نه دي پوښتلي چي فقط زه دې ولي انتخاب کړم؟ نو که نن درد راکول کيږي ځنګه ګيلي ورڅخه پيل کړم، چي اخير زه ولې؟

که موږ په ښو وختونو کي خدای څخه نشو پوښتلی چي اخير زه ولي نو په بدو شېبو کي هم حق نه لرو!

ژباړه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ